## خلافت به څرنګه یوه پیاوړې کورنۍ رامنځ ته کوي

یو وخت د اسلامي کورنۍ پیاوړتیا او هم غاړېتوب د اسلامي امت یوه ځانګړنه وه. د سویسي فامیلي حقوقو پروفیسر ګسټون جیز د خلافت تر ویجاړېدو وروسته له ترکي جمهوریت څخه لیدنه وکړه او ویې ویل: « په دې هیواد کې د ورته دیني عقیدې شتون، د نړۍ په کچه یو پیاوړی کورنی نظام رامنځ ته کړی دی او دغه بنسټ یوه داسې ټولنه رامنځ ته کړې چې د ملتونو په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی.»

که څه هم نن ورځ اسلامي کورنۍ ځکه کړکېچ ځپلې ده چې په فضا کې غېري اسلامي ارزښتونه او قوانین حاکم دي او موږ د غېري اسلامي رژیمونو له لوري اداره کېږو. یادو رژیمونو او نظامونو په منظمه توګه د خپلو بې ګټو قوانینو او تګلارو په مټ نکاح له منځه وړې، مورنی نظام یې وېشلی او کورنۍ یې تجزیه کړې ده.

د دې لپاره چې یوه پیاوړې کورنۍ ولرو، باید د خپلو هیوادونو په سیاسي نظامونو کې بنسټیز بدلون راولو، د هیواد په بنسټونو، د ټولنو په شتو ارزښتونو او قوانینو کې هراړخیز بدلون راولو او داسې یو دولت تاسیس کړو چې په ریښتنې توګه د نکاح د تقدس ساتنه او درناوی وکړي، د مورولۍ ارزښت ته په درنه سترګه وګوري او په پای کې یوه روغه کورنۍ جوړه او ساتنه یې وکړي. دا د اصولو، قوانینو او نظامونو له لارې ښودل کېږي، ترڅو په عملي توګه دغه مقدس لیدلوری په واقعیت بدل کړي. دغه لویه موخه د هغه دولت په مټ ترلاسه کېدای شي چې بنسټ یې اسلامي عقیده وي او همدغه دولت ټول هغه اسلامي قوانین یوازې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره پلي کړي. الله سبحانه وتعالی چې په هرڅه پوه، د حکمت څښتن او پوهېږي چې په څه توګه د خلکو (نارینه او ښځو) د ژوند چارې، د دوی حقونه او دندې په داسې یوه طریقه تنظیم کړي چې د کورنۍ او د هغې د غړو لپاره په ژوند کې خوښي او کامیابي ترلاسه شي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّـهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَـهُمْ أَن يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۚ وَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾**

**[النور:۵۱]**

*ژباړه: له شک پرته د مومنانو خبره خو همدا وي، کله چې دوی الله او د هغه رسول ته وبلل شي، نو وایي: مونږ (حکم) واورېده او مونږ ومانه او همدغه خلک کامیاب (خلاصی موندونکي) دي.*

هغه دولت چې بنسټ یې سوچه اسلام وي او ټولې اسلامي عقیدې، ارزښتونه او قوانین پلي کوي- هغه د پېغمبر صلی علیه وسلم پر طریقه خلافت – د الله سبحانه وتعالی نظام دی. اسلامي مشرتابه به هغه قوانین او مقرارت چې یو څو صوفیان یې ټولنې ته د کورنۍ اړوند اسلامي قوانینو په توګه ښیي، په هغو پرتمینو او ښکلو اسلامي قوانینو به یې واړوي، چې د ټولې ټولنې لپاره یو نورم او معیار وګرځي، ډېرو خلکو ته د منلو وړ وي او خلک خپل ورځنی ژوند د یادو قوانینو په مټ مخ ته بوځي. دا دولت هغه وخت رامنځ ته کېږي کله چې د ټولنې په بنسټونو او نظامونو کې د اسلامي کورنۍ اړوند ارزښتونه او مقرارت پلې شي، وده ورکړي، نافذ شي او ساتنه یې وشي.

هغه خلافت چې بنسټ یې سوچه اسلام وي، په ټولنه کې به په بشپړه توګه تقوا عاموي او شخصي غوښتنې او هوسونه چې د ازادیګانو او جنسیتي برابریو په مټ یې وده کړې، مخه به یې نیسي. د یوې پیاوړې او سالمې کورنۍ د ودې او روزنې لپاره تقوا لومړنۍ دفاعي برخه او ډېر حیاتي عنصر دی، ځکه همدغه تقوا د ښو اعمالو، د الله سبحانه وتعالی د فرضونو د ترسره کولو او د ده سبحانه وتعالی د حدودو او قوانینو د اطاعت لپاره یو محرک ځواک دی.

تقوا یو تن هڅوي چې له مخالف جنس سره په حیا سره معامله وکړي او ټول هغه ټولنیز قوانین به له هغه/هغې سره په عام، شخصي یا انټرنیټي ژوند کې په پام کې نیسي. یو ځوک نکاح د دې لپاره کوي چې د عفت ساتنه یې وشي او د هغه عمل څخه لېرې شي چې ان حرامو ته نږدې وي. دا چاره په ټولنه کې د فحشا مخه نیسي. دا هم تقوا ده چې یو کس د دین او ښو اخلاقو پر بنسټ د مېرمنې سره د نکاح غوښتنه وکړي او دا هم تقوا ده چې یوه کورنۍ سره وتړي او د کورنۍ هر غړی وهڅوي چې خپلې دندې او د نورو حقونه په زغم، پوره زحمت او لیوالتیا سره ترسره کړي او په دې کار کې له همکارۍ او اخلاص څخه کار واخلي، ځانځاني او فردپالنه پرېږدي او هغه څه وکړي چې د کورني او ګډ ژوند لپاره غوره وي. په دې کې هغه کړنې شاملې دي چې په ژوند کې ارامي راولي او د طلاق مخه نیسي. له همدې امله نکاح سړی هڅوي چې له خپلې ښځې سره غوره چلند وکړي، د خپلې کورنۍ د ښه ژوند لپاره هلې ځلې کوي او د خپلې کورنۍ لپاره د یو مهربانه او مینه ناک ساتونکې رول ترسره کړي او د وېرې او تاوترخوالي مخه ونیسي. دا چاره مېرمن هڅوي چې د خپل خاوند اطاعت وکړي، د خپل کور چارې ترسره کړي او په پوره هوډ، پاملرنې سره خپل ماشومان وروزي. همدارنګه دا چاره ځوان هڅوي چې د خپل مور او پلار او مشرانو احترام، اطاعت وکړي او دوی ته پاملرنه وکړي او په دې توګه یوه ښکلې او خوشحاله کورنۍ رامنځ ته کړي.

خلافت د بشپړ اسلام د پلي کولو له لارې په ټولنه کې تقوا ته وده ورکوي. د خلافت ښوونیز نظام به د خپلو اتباعو ترمنځ د بېلګې په توګه سم اخلاق او پوهاوی د اسلامي ټولنیزو قوانینو او مقرارتو په تړاو رامنځ ته کوي. ټولنه به

په بشپړه توګه د عقیدې او د زړه له کومې د شریعت حکمونو ته غاړه ایښودونکې وي، بد اخلاقي او فساد به له ټولو ښېو سره ردوي. د خلافت سیاسي او عدلي نظامونه به د قانون د نافذولو له لارې هغه کسانو ته سزا ورکوي چې د اسلامي حدودو څخه سرغړونه کوي. د خلافت مطبوعات به د اسلام د ګټو د ملاتړ په ګډون د فاسدو افکارو پر ضد مبارزه کوي او هغه څه به خپروي چې د ټولنې لپاره غوره وي. ورځپاڼې، مجلې، تلویزیون، راډیو، انټرنیټي رسنۍ، کنفرانسونه او نور وسایل به د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره کارېږي.

خلافت به د نارینه و او ښځو ترمنځ د ښو اړیکو پر بنسټ ټولنه جوړوي چې د دواړو جنسونو ترمنځ همکاري رامنځ ته کړي، ترڅو یوه کورنۍ خوندي شي. د ښوونې او روزنې، رسنیو او په هر اړخیزه توګه د اسلامي ټولنیزو ارزښتونو او قوانینو د نافذېدو او پلې کېدو له لارې به خلافت په ټولنه کې د نارینه و او ښځو ترمنځ اړیکو لپاره سم چاپیریال رامنځ ته کوي او د جنسي ځورونې او یوازې جنسي اشباع کولو مخه به نیسي او د ښځو او نارینه و ترمنځ د اړیکو موخه به نکاح وي. دغه کار د ښځې مقام او پاک لمنې په ګوته کوي. دا چاره له ښځو څخه په ټولنه کې د جنسي کاراخیستنې یا اعلاناتو، رسنیو، ادبیاتو او انټرنیټ کې د غېري اخلاقي اړیکو د ودې مخه نیسي. د دې ترڅنګ خلافت به په عام محضر کې د ښځو لپاره حجاب د خیمار او جلباب غوره کوي هغه که مسلمانه یا نامسلمانه ښځه وي ترڅو په عام ژوند کې د دې زینت ډاګیزه نشي او دا د دوی دواړو (نارینه و او ښځو) سره مرسته ده چې خپلې سوچه اړیکې او پاک لمنې وساتي.

دولت به د نارینه و او ښځو ترمنځ خلوت ته، چې په اوسني وخت کې په ښوونځیو، کالجونو، پوهنتونونو، کافي شاپونو، کلبونو او نورو ځایونو او همدارنګه په کورونو کې ترسره کېږي او د ناروا اړیکو لامل ګرځي، د پای ټکی ږدي. دولت به په عامه ژوند کې که هغه ښوونیز بنسټونه، ترانسپورتي سیستم، کارځایونه، روغتونونه او نور ځایونه وي، د نارینه و او ښځو ترمنځ تر ممکن حده جلاوالی راولي.

د خلافت لپاره د حزب التحریر د اساسي قانون د مسودې په ۱۱۳ مه ماده کې لیکل شوي:

*«په اصل کې نارینه او ښځې یو له بله سره بېل دي او دوی به نه سره یوځای کېږي، خو د شریعت له پرېکړې پرته چې شریعت د دوی د یوځای کولو اجازه ورکړې وي، لکه په سوداګري او حج کې.»*

دغه *راز* ، د خلافت لپاره د حزب التحریر د اساسي قانون د مسودې په ۱۱۸ مه ماده کې لیکل شوي:

*«د یوې ښځې لپاره حرامه ده چې له نامحرم سره یوازې شي. د دې لپاره دا هم حرامه ده چې خپل زینت او عورت د پردیو نارینه و پر وړاندې ښکاره کړي.»*

د دې ترځنګ خلافت به نکاح کوونکی هڅوي او د نکاح ملاتړ به کوي که اړتیا وي مالي ملاتړ به یې هم کوي. د بېلګې په توګه، د ۸ مې پېړۍ خلیفه عمر بن عبدالعزیز دولت ته امر وکړ چې دولتي بودجه د هغه چا لپاره وکاروي چې نکاح ته اړتیا لري. سربېره پردې، اسلام د زنا او فحشا لپاره سختې سزاګانې ټاکلې دي، ترڅو چې نکاح او کورنۍ خوندي شي.

خلافت به د نکاح کولو او کورنۍ رول لوبولو او د نارینه و او ښځو حقونو او مسولیتونو ملاتړ کوي، ترڅو په کورني ژوند کې ارامي او همږغي رامنځ ته کړي. د خلافت ښوونیز نظام او مطبوعات به یو څرګند پوهاوی د خپلو ځوانانو او اتباعو لپاره د اسلامي شریعت سره سم وړاندې کوي او همدارنګه په کورني ژوند کې د دواړو جنسونو مسولیتونه په څرګنده توګه په ګوته کوي. د بېلګې په توګه د اسلامي فقهې د ښوونیز نظام په درسونو کې راغلي، چې دولت به د نارینه و اصلي دندو او ځانګړتیاوو ته وده ورکوي. نارینه د کورنۍ د ساتونکي په توګه چې درلودونکی د عاطفې، مهربانۍ دی، د خپلې مېرمنې او ماشومانو ساتنه او پالنه هم کوي، دې چارې ته به دولت پوره پاملرنه کوي. همدارنګه په دې درسونو کې د ښځو مسولیتونه او اهمیت بیان شوی، چې ښځه د یوې مور یا مېرمنې په توګه د ټولنې په پرمختګ او ښېرازي کې بنسټیز رول لري. پردې سربېره، د ښوونځۍ په ثانوي دوره کې ښځینه زده کوونکي د اسلامي ثقافت، ریاضي، او ساینسي علومو ترڅنګ کولی شي یو کورنی انتخاب، لکه د ماشوم ساتنه او پالنه او د کورني ژوند په تنظیم کې تخصص واخلي.

خلافت به نه یوازې خپل اتباع د کورني ژوند په مقرراتو پوهوي، بلکې په عملي ډګر کې به له دوی سره د خپلو مسولیتونو او رول ترسره کولو کې مرسته کوي. د بېلګې په توګه، ۱۵۳ ماده، د خلافت لپاره د حزب التحریر اساسي قانون مسوده صراحت لري، «دولت باید د خپلو ټولو اتباعو لپاره د کار زمینې ډاډمنې کړي.» د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لاندیني حدیث پر بنسټ دا د خلافت مکلفیت دی.

**«وَالإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»**

امام (خلیفه) ساتونکی او د خپلو اتباعو پر وړاندې مسول دی.

خلافت به له همدې امله د هر نارینه سره مرسته کوي چې خپلې کورنۍ ته خوراکي توکي برابر کړي، د خپلې خزانې څخه به بسپنه ورکوي، د خپلو کرل شویو ځمکو له لاسته راوړل شویو عایداتو څخه به ورسره مرسته کوي، د ځینو خلکو لپاره روزنیز پروګرامونه چمتو کوي، ترڅو دندې په ښه توګه ترسره کړي او د خپلې کورنۍ لپاره یوه ګوله ډوډۍ چمتو کړي. دا ټول د اسلامي اقتصادي نظام له لارې منځ ته راځي چې په پایله کې غوړېدلی اقتصاد رامنځ ته کېږي.

په ورته وخت کې، خلافت به ښځې پیاوړي کوي چې د میندو په توګه خپله بنسټیزه دنده ترسره کړي او همدارنګه تل به دا ډاډمنوي چې له مالي پلوه دوی ځواکمنې دي او هیڅکله د اقتصادي فشار له امله د ماشومانو پر وړاندې خپله حیاتي دنده نه قرباني کوي. د خلافت محکمې به د هغې مېرمنې ملاتړ کوي چې خاوند یې د دې او د دې د کوچنیانو لپاره د خوراک څښاک توکي نه چمتو کوي، دی به اړباسي چې د خپل ظرفیت سره سم خپل مکلفیت ترسره کړي، که یې نه ترسره کوي له سزا سره به مخ کېږي. د عباسي خلافت اسلامي علماوو په خپل کتابونو کې لیکلي دي: چې یوې ښځې د خپل خاوند پرخلاف څرنګه محکمې ته عارضه کول، هغه مهال چې د دوی لپاره یې کافي اندازه د خوراک او څښاک توکي نه چمتو کول او قاضي څرنګه هغه اړایسته چې د هغې غم وخوري. په داسې یو حالت کې چې د یوې ښځې خاوند بېوزلی وي یا هغه خپلوان نلري چې د دې غم وخوري، په دې صورت کې خلافت مکلف دی چې د دې ښځې لپاره خوراک او څښاک برابر کړي. پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«مَنْ تَرَكَ مَالاً فَلأَهْلِه وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ وَعَلَيَّ »**

**(رواه مسلم)**

که یو څوک وفات شي یو څه شتمني ترې پاتې شي، شتمني به یې وراثانو ته ورکول کېږي؛ که دی پوروړی یا بېوزلی وي، موږ به د هغوی ساتنه او پالنه کوو.

پورته خبرې دا یقیني کوي چې کسان به د بېوزلۍ له وېرې خپله کورنۍ نه محدودوي. له بل لوري خلافت به کورنۍ هڅوي ډېر ماشومان وزېږوي او په شعوري توګه کورنۍ به پوهېږي چې خلافت زموږ غم خوري.

جولي فردو د ۱۹مې پېړۍ برتانوی تاریخ پوه او سیاح د عثماني خلافت په دور کې په خپل کتاب ( د سلطان ښار او د ترکانو کورني اخلاق، ۱۹۳۵) کې لیکي:

*«په ترکانو کې یو ښکلې ځانګړتیا د وخت د لیکوال ستاینه او درناوی و... یو لیکوال لیکي: مور یو سلاکاره ده، له دې سره مشوره کېږي، دې ته د زړه غوټه خلاصېږي، دې ته په درناوي او عزت غوږ نیول کېږي، د مرګ په وخت کې د دې درناوی کېږي او په مینه سره یادېږي او تر مرګ وروسته په دې پسې ارمان کېږي.»*

د دې ټولو ترڅنګ، د خلافت عدلي نظام به په کورني او د متاهل ژوند په یووالي او همغږي ساتلو کې رول لوبوي. د کورني تاوتریخوالي په تړاو خلافت هیڅ زغم نلري او مرتکبینو ته به سخته سزا ورکوي. خلافت به د زور نکاح مخه نیسي او د هر ډول غیري اسلامي دودونو او مفکورو مخنیوی به کوي چې کورنۍ ته زیان رسوي.همدارنګه د یو جدي دیکتاتور په څېر به هر ډول د نکاح اړوند او کورنۍ شخړې په اغېزمنه توګه حل کړي. ستونزه مخکې

له دې چې وخت پرې تېر شي په بېره به یې مخه نیسي او دا به یقیني کوي چې عدالت ته لاس رسی چټک، ناپیلی او مفت دي.

خلافت به د یو ځواکمنې کلا په څېر کورنی پیاوړې کوي او له هر اړخه به یې خوندي کوي. یو وتلی عالم امام غزالي (رح) وايي، *«دین بنسټ دی او خلیفه ساتونکی دی. هر هغه څه چې بنسټ ونلري هغه له منځه ځي او هر هغه څه چې ساتونکی ونه لري هغه زیانمېږي.»*

**(ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ)**

**[الجاثیه:۱۸]**

**ژباړه: بیا موږ ته (د دین) په معامله کې په واضحه لاره باندې ودرولې، نو ته د دې پیروي کوه او ته د هغو خلقو د خواهشاتو پیروي مه کوه چې نه پوهېږي.**

**ډاکتر نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو څانګې ریيسه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**